Share

Twittern

عالیه راوی اکبر ۲۰۱۲/۰۵/۱۴

# د خپلې ادې له میره ښخه غوښتنې!

د محمد داود خان د حکومت له پیله سره سم بهرنی پلوې ډلې له یوې خوا د خپلې ګوندونو د ایدیالوژیکو او سیاسی موخو اوغوښتنو د پلې کولو دپاره لاس په کار شول. له هغه ځایه چې د ګوندونو دپاره شونې نه و چې په یواځې توب واک ترلاسه کړي نو ځکه بهرنیو هیوادونو ته لاس پورې کړل. د بلې خوا دا ګوندونه په افغانستان کې د بهرنیو هیوادونو د ستراژیکو موخو د پلې کولو د پاره هم لاره هواره کړ. په دغو بهرنی پلوو ډ لو کې خلقی، پرچمی او ستمی کمونستان او بلې خوا په بهرنی پلوو ډلو کې پاکستان او ایران میشت اخوانیان هم شامليږي چې ورسته د جهادي تنظیمونو په نامه سره مشهور شول او د افغان جهاد له بری ښخه وروسته خلقی پرچمی، خادی او ستمی کمونستان د اسلامی کوند او اسلامی جمعیت، د نظار شورا او د روسانو په دسترخوان کې لوی شوی دوستمیان او د ایران د قم جیره خوران د وحدت کوند په نامه سره په جګړو اخته شول کله یو د بلې سره جګړې کولې او کله یو د بلې سره ائتلاف جوړول خو د دې جګړو او ائتلافونو په پای کې نه یواځې د کابل ښار بلکې ټول افغانستان تباه او برباد شو او د افغان ولس جهادي هیلې په نه هیلې بدل شو. د کابل د ورانولو ښخه وروسته طالبانو میدان ته ودانګل. طالبانو د افغان ولس په زور بهرنی پلوي جمعیت اسلامی، د نظارشورای، دوستمیان، پرچمی کمونستان، د قم اجیران( د وحدت ګوند) او ستمیان ټول و ټبنتول خو په پای کې طالبانو هم د پاکستان د استخباراتو په اشاره داسې بد بختې افغان ولس دپاره منځته رواوستل چې نن زموږ په خاوره کې ځلوبینت رنګه بهرنی بیرغونه پورته شول ، خاوره مو د نړوالې ټولې د امنیت شورا د پریکړې پر اساس اشغال شو. د نړی سیاسی ټولنه په یو غږ کې سره سلا شو او وویلې چې افغانستان باید ونیول شي تر څو چې افغانستان د طالبانو او القاعدې ډلې له منګولو ښخه وژغورل شوی نه وي د ټول نړی امنیت په خطر کې ده . افغانستان د طالبانو د واک په مهال د نړی د امنیت د پاره لوی د ګواښ په توګه وپیژندل شو. د ملکرو ملتونود امنیت شورا د پاکستان او ایران په شمول ټول لرې او نژدې هیوادونه لاسونه سره یو کړل او افغانستان یو ځل بیا د امریکا په مشری د نړیوالې ټولنې له خوا اشغال شو دا د طالبانو لاسته راوړنه وه.

ټبنتیدلې شمالې تلواله او د مړ مسعود پلویان او د ټش په نامه ټبنتیدلې (د مقاومت ډله) د بهرنیانو سره یوځل بیا یو ځای شو او د افغانستان د نیولو دپاره لاره هواره کړ. نړیواله ټولنه د شمالې تلواله په چوکات کې د بن د غونډې په پای حامد کرزی د ترکستانی چین او قره قل سره د ربانی د ځای ناستې په توګه افغان ولس ته وپیژند خو له بل پلوه ترننه پورې د افغانستان سیاسی واک د شمالې تلواله په لاس کې دی. شمالې تلواله هم حکومت دی هم د حکومت اپوزیشن ډله ، د شمالې تلواله مشران لکه فهیم، خلیلی، دوستم، اسماعیل، بسم الله، شاخدارامعطا د امریکا او ناتو تر بیرغ لاندې حکومت کوی، چور کوی ، اداری فساد او غلا وي کوی ، تجارت کوی او زور چلوي او بلې خو د شمال تلواله ډبل عبدالله، قانونی، محقق بیا د حکومت رسمی پوزیشن ځان پیژنی.

اوس د شمالې تلواله مشران یا د کابل حکومت ټش په نامه د اپوزیشن ډله غواړی چې د افغانستان په یوشمیر شمالی ولایات د بامیان او ډایکوندي په شمول کې خپلې مستقلې حکومتونه وچلوي. شمالې تلواله غواړی چې د افغانستان د مرکزی حکومت سیاسی واک په ولایاتو کې ویش شي یانی مرکزی واک سیمه بیزواک او خبره تر فدرالی نظام ښخه هم پورته سیاسی حکومتونه منځ ته راځی یانی افغانستان عملاً تجزیه کیږي. دبلې خوا شمالي تلواله غواړی چې ریاستی یا ولس مشریزه نظام په صدارتی نظام باندې بدل شي ځکه چې دوی په ولس جرګه کې د ایرانیانو په پیسو بیا به وکیلان رانیولی شي او یو ځل بیا حکومت وګړي او شمالی تلواله هغه وخت په ښه توګه په خپل خیال افغانستان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

تجزیه کولایشي، بیا کوم چي موږ افغانستان بولو په خراسان ، غرجستان او آریانا بدل کړي او خلاصه افغانستان په نامه هیواد تباه او برباد کړي.

شمالی تلواله سوچ کوی چي دا کار یانی د افغانستان مرکزی نظام ماتول ، فدرالی نظام جوړول د امریکایانو په واسطه بیخی شوني دی.

په همدې هیله شمالی تلواله په برلین کي غونده وکړه او یوشمیر امریکایی کانګرسمنان یا د امریکي د ولسی جرګي غړي برلین ته وروبلل او هلته د امریکایانو څخه یاني د خپلي ادې د میره څخه غوښتنه وکړه چي د شمالی تلوالي په خوښه د افغانستان نظام بدل کړي تر څو چي د افغانستان مرکزی نظام مات شي او فدرالی نظام منځ ته راشي او د ولس مشریز نظام پرځای هم صدارتی نظام ټینګ کړی شي.

شمالي تلواله د برلین د غونډي وروسته په کابل کي د امریکا سفارت سفارت د یوشمیر امریکایي کانګرس منانو سره وکتل او شمالی تلواله یو ځل بیا د خپلي ادې له میره څخه غوښتنه وکړه چي که چیرې شوني وي د شمال تلواله په خوښه د افغانستان د نظام سیاسی جوړښت بدل کړي او د شمالي تلواله هره دله په مختلفو ولایاتو کي یو ځل بیا واک ته ورسوي. امریکایی کانګرس من دانا روهرباکر خیال کوی همدارنګه چي د امریکا فدرالی نظام ښه‌تلی دی که چیرې افغانستان هم فدرالی شی بیا به ښه‌تلي کیږي.

د امریکایانو انګیرنه د فدرالی نظام څخه د امریکا هغه مرکزی نظام دی چي نه یواځي په امریکا کي بلکي په نړي کي حکومت کوي. په داسي حال کي چي د کابل خوارکی حکومت د کابل په ښار حکومت نشی کولای او که چیرې واک نورهم وویشل شي بیا د افغانستان په نامه هڅ شی نه پاته کیږي.

دې کي هیڅ شک نشته چي شمالی تلواله د افغانستان د ښیګني د پاره کوم پلان نه لری بلکي غواړی د فدرالی نظام ، یا والیانو ته د ډیر صلاحیت ورکول تر نامه ، ولایتی شوراګانو ته اجرائیوي صلاحیت ورکول د افغانستان د بربادی لاره برابرول دی.

یو لوی شئ چي شمای تلواله لکه د افغانستان نور ګاونډیان او بهرنیان په هغه کي نه پوهیږي هغه دا دی چي نه پوهیږی دا افغانستان دی پکي افغانان اوسیږي او تر څو چي یو افغان وي دا افغانستان به ژوندی وي او هیڅ کورنی یا بهرنی ځواک افغانستان تجزیه نشي کولای حتی د شمالی تلواله د ادې میره هم. دا شمالی تلوالي ته په ډاګه وایو چي افغانستان هیڅ کله فدرالی کیږي نه ځکه چي افغانان خپله خاوره نه تجزیه کوي او تر څو چي شمالی تلواله د صدارتی نظام ناري وهی پښتانه د ریاستی نظام پلوی کوي او د شمالی تلواله هر ناوړه پلان شنډ کولای شي.

تل دې وي افغانستان

په درناوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ